ډاکټرنظرمحمد سلطانزی ځدرانِ ۲۰۱۵/۰۵/۱۹

بسم الله الرحمن الرحيم

ولسمشرډاکټرصاحب اشرف غني ته سرخلاصی لیک

دافغانستان داسلامي جمهوريت ولسمشرښاغلی ډاکټرصاحب اشرف غني اسلام عليکم ورحمت الله وبرکته!

زه پوهنوال ډاکټرنظرمحمدسلطانزی ځدرانِ چې همداوس دجرمني په هيوادکي دسرطان ناروغی راډيوتيراپي په څانګه کي کارکوم، غواړم چې په کابل کي دسرطان ناروغی ملي روغتون پروژي په اړوند

National Cancer Hospital Project

يو وړاندېزستاسومحترم حضورته وړاندې کړم .

■ دپروژې اړتيا:

دافغانستان دعامي روغتياوزارت رسمي خپرونه په ډاګه کوي چې په هيوادکي دسرطان ناروغی پېښي هرکال مخ په زياتېدودي.
دنوموړي وزارت احصائيوي ارقام چې درسنيوله خواخپورشوي دي، راښيي چې هرکال لږڅه شل زره کسان دسرطان ناروغی له کبله خپل ژوندله لاسه ورکوي.
په افغانستان کي دسرطان ناروغی دپېژندني ،درملني اومخنيوي د مرکزونو نه شتون ، ددی لامل شوی دی، چې هره ورځ دسرطان په ناروغی اخته لسګونه تنه افغانان له هېواد څخه بهر ته ،د درملني په موخه لاړ شي او کوم کسان، چې اقتصادي وس نه لري، د هېواد دننه پرته له درملني مري. دهيوادهرشخص ته يوداسي ناوړه اوغمجن حالت نوردزغم وړنه دي.
په پايله کي هرسړی دې نتيجي ته رسيږي، چې په هيوادکي که په هرقيمت هم وي، بايد چې دسرطان ناروغی يوروغتون جوړ شي.

بلخوا په پښتوکي يومتل دی :

(هلک چې وه نه ژاړي موريې تی نه ورکوي.)

په دې ماناچې که پخپله دهيوادلوړپوړي سياسي چارواکي اوعلمي مسلکي کارپوهان خپل لاسونه،خپل عملونه اودملي وحدت فکرونه سره يوموتی نه کړي اودبهرنيو هيوادونوڅخه دمرستي غوښتنه وه نه کړي، نودنوموړي پروژي کارناشونی دی .

دبېلګي په توګه دهندوستان چارواکي دومره هوښيارتيا او زيرکتيالري چې لږڅه اتياسلنه علمي پروژي دبهرنيوهيوادونو اوسازمانونولکه WHO;IAEA;UN; په مټ تمويل کوي.

■ دپروژي دپيل کړنلاره :

۱- لکه چې پورته يادونه وشوه دبهرنيوهيوادونودمرستي څخه پرته دنوموړي پروژي جوړېدل ډيرستونځمن اوحتی ناشونی دی .
دبېلګي په توګه زماپه آندجرمنی يوداسي هيواددی چې په افغانستان کي دروغتياپه څانګه کي دمرستي ليوالتيالري، خوپه دې شرطه چې هغوی ته دافغانستان له خواپه رسمي توګه مسلکي اونامتو،پېژندل شوي کارپوهان معرفي شي، ترڅويوخواجرمنيانوته دباوروړکسانو په توګه ومنل شي اوبلخوا افغان ملي کارپوهان وکړای شي چې دجرمني هيوادچارواکوته دپروژي داړتياپه تړاو قناعت ورکړي.
ترهرڅه دمخه دافغانستان دبهرنيوچاروله لاري دجرمني هيواد سره تماس ونيول شي ترڅوپه هيوادکي دنوموړي پروژي علمي ،تخنيکي اوپلان کولو په اړوندمرسته اوموافقه ترلاسه شي.
۲- دنوموړي موخي لپاره په دويم ګام کي دکابل طبي پوهنتون اودجرمني نامتو پوهنتونونوترمنځ دګډکارمتقابل تړون لاس ليک شي. دبېلګي په توګه يوداسي تړون داقتصاد په څانګه کي دجرمني بوخوم پوهنتون Bochum Universität سره شتون لري.
په جرمني کي لاندې روغتونونه دسرطان ناروغی په هکله په نړيواله کچه نوم لري اوله دې کبله ښايي چې ورسره په رسمي توګه تماس ونيول شي.

- National center for Tumor diseases Heidelberg
- Charité Comprehensive Cancer Center Berlin

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

- Cancer Center university Hospital Mainz

۳- په کابل کي دروغتون موقعیت ، دتعمیرنقشه اودآبادی مهندسي کارونه همداوس پلان شي.
۴- په جرمني کي ډیرافغان طبي کارپوهان کارکوي اوغواړي چي دهیوادپه نوموړي پروژه کي خپله ونډه واخلي . نوله دي کبله په جرمني کي دافغانستان سفارت دنده به داوي چي دنوموړو کارپوهانوسره تماس ونیسي. بلخواپه جرمني کي اوسیدونکي افغان طبي کارپوهان دافغانستان سفارت له خوا نوموړوجرمني پوهنتونونوته دګډکار په تړاود اعتبار وړ کسانوپه ډول وروپیژندل شي.
۵- دافغانستان دپوهنتونونوڅخه وتلي اوتکړه طبي ځوان ملي ډاکټران دتخصص لپاره په لاندي ځانګوکي جرمني ته واستول شي .

دروغتون دیپارتمنتونه په لاندي ډول دي اوپه هره ځانګه کي **دوه ډاکټران** دتخصص په موخه دجرمني هیوادته دزده کړي لپاره واستول شي.

■ Clinical Departments

- Medical Oncology
- Neuro-Oncology and Neurosurgery
- Radiation Oncology
- Radiotherapy
- Hematology
- Stem cell Transplantation
- Diagnostic Radiology
- Palliative care
- Psycho- Oncology
- Pathology, Clinical Laboratories
- Pediatric Oncology
- Blood Transfusion and Cellular Therapy
- Gastrointintestinal Medical Oncology
- Surgery Oncology

■ Organization : دروغتون تشکیلات

- Management Board : دروغتون لاري چاري مدیریت یا سمبالښت دیوه کمیسیون په مټ پرمخ بوول کیږي چي په ګوتوشماروطنپال مسلکي کارپوهانوڅخه جوړوي. لکه طبي ډاکټران ،داقتصادډاکټران، اودښایسته سالاري مدیریت دپلان کولو ډاکټران اونور.

- نوموړی کمیسیون باید چي :
  - ✓ دلوړوزده کړووزارت ، ساینس پوهنځی علمي غړو
  - ✓ دعامي روغتیاوزارت، دکابل طبي پوهنتون اوعالي آبادروغتون علمي غړو
  - ✓ دافغانستان داتوم انرژی لوړکمیسیون Afghan Atomic Energy High commission علمي غړوڅخه جوړوي . داځکه چي دسرطان ناروغی کلینیکي کارونه په نوموړووزارتونوپوري تړلي دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

● Chairman and Scientific Director : دکمیسیون په سرکي یوعلمي رئیس ټاکل کیږي چې په پښتوژبه،دري ژبه ،انګلیسي ژبه اودامکان سره سم په جرمني ژبه خبري وکړای شي .
۶ - دهیوادطبي پوهنتونونوپه تعلیمي پروګرام کي دسرطان ناروغی ددرملنې ،پیژندني اومخنیوی په هکله علمي مالومات دکتابونو دچاپ کولوله لاري ترسره شي .
۷- دکیمیاوي درملنې مواد chemotherapy Drugs اورادیوتیراپي ماشین لکه خطي تعجیل کوونکی طبي آله Linear accelerator ډیرقیمت تمامیږي . دبیلګې په توګه دهوچکین ویني سرطان Hodgkin Lyphoma یوناروغ ددرملنې لپاره دیرش زره ایرو € 30000 مصرف کیږي.
نوله دې کبله بایددملل متحد UN،دنړیوال روغتیاسازمان WHO ، دنړیوال اتوم انرژي سازمان IAEA ، دهیوادملي بودیجې اوهمدارنګه ولسي شته منوتجارانواودخیریه موئسسوپه مټ بسپنه ترلاسه شي.

په پایله کي دومره ویلای شم چې دسرطان ناروغی ملي روغتون پروژي دپلي کولوپه موخه زه دیوه سلاکارغړي په صفت دخپل وس سره سم هرډول خدمت ته حاضریم. په بله وینا زه دکوم امتیازاویامقام هیله نه لرم بلکي الجهاد **في سبيل الله** :د الله(ج) د رضا لپاره هڅه کوشش او زیارکوم .
دپام وړخبره خوداده چې دنوموړي پروژي په اړوند اړین ده چې دهیوادچارواکي دزړه له کومي اوپه صداقت سره عملي ګامونه واخلي اودبیوکراسي څخه صرف نظروکړي. لکه چې په اسلام پوهنه کي موږته دشرعی احکاموپه اړوندهدایت شوی دی:
دقرآن شریف لوستل سنت دی خوعملي کول یي فرض دی.

په درنښت
پوهنوال ډاکټرنظرمحمدسلطانزی ځدران

■ دلیکوال پیژندنه :

- دکابل پوهنتون دساینس پوهنځی فزیک دیپارتمنت پخوانی استاد
- دافغانستان داتوم انرژی AAEHC پخوانی مسئول مشر
- دهستي فزیک اوطبي فزیک کارپوه ډاکټر
- دجرمني په یوه روغتون کي دسرطان ناروغی رادیوتیراپي دیپارتمنت فعال کارکوونکی غړی

دلیکوال په مټ لیکل شوي کتابونه چې دهیواددلوړوزده کړي وزارت له خواچاپ شوي دي.
۱- سرطان اودچاپیریال رادیواکتیویتي، چاپ کال ۱۳۸۶ ل
۲- دویني سرطان پیژندنه ،درملنه اومخنیوی، چاپ کال ۱۳۸۸ ل

ناچاپ کتابونه :
۱- دالتراسوندUltrasound طبي کارولوکړنلاره
۲- دالبرټ اینشتاین نسبي تیوري
۳- درادیوتیراپي ماشین اودسرطان ناروغی درملنه
۴- دلیمفوماسرطان پیژندنه ، درملنه اومخنیوی

ترلیک لاندي کتابونه:
دطبیعي علوموانګلیسي - پښتوقاموس(سیندګی)
دطبیعي علوموجرمني - پښتوقاموس(سیندګی)

■ یادونه :

نوموړی وړاندیز، بیخي اخري پریکړه نه شی کیدی اونیمګړتیاوي به ولري . له دې کبله دنوروپوهانواوچارواکودنظرپه پام کي نیولو سره سم کیدی شي چې بدلون پکي ورکړشي.

Dr.Nazar Sultansei zadran
Email: N.Sultansei@gmx.de
Homepage: WWW.Sultansei.de
Phone in German cell: (+49) 06142 8865077

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ